# دوستان څنګه جوړ کړو؟

08-December-2022



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے
د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

په 8 دسمبر کال 2022ء  د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# دوستان ښنګه جوړ کړو؟

**په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...**

- انسان د خپل دوست په دِین باندې وي
- د دوست د ګره ګتَنې مِعیار
- د کافِر د دوستئ خطرناک انجام
- د صحبت اثر ښنګه کیږي---؟
- دعوتِ اسلامي او نیک صحبت ورکول

**پیشکش**

اَلْمَدِيْنَۃُ الْعِلْمِيَۃ (اسلامِک ریسرچ سنټر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللّٰہ          وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللّٰہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ          وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللّٰہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک**: چاته چې څه اهم حاجت ورپيښ شي، هغه دې په ما باندې زيات دُرُود شريف لولي ځکه چې دُرُودِ پاک غم، درد، مصيبتونه لرې کوي او رِزق زياتوي-[1]

دُور ہو جائیں دُنیا کے رنج و اَلَم          ہو عطا اپنا غم دیجئے چشمِ نم
مال و دولت کی کثرت کا طالب نہیں          تم پہ ہر دم کروڑوں درود و سلام[2]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب          صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اَلنِّيَّةُ الۡحَسَنَةُ تُدۡخِلُ صَاحِبَهَا الۡجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته بوځي-[3]

**اے عاشقانِ رَسُول!** د ښه ښه نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي- راځئ! د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به پوره بيان اورم. ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به باأَدبه کښينم ❀ ښه په توجو به بيان اورم ❀ څه چې واورم د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسَولو کوشش کووم-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب          صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1...بُسّتان الواعظين، صفحہ:241۔
2...وسائل بخشش، صفحہ:604۔
3...مسند فِرْدَوس، جلد:4، صفحہ:305، حديث:6895۔

## یا الله پاکه! زما دوستان نیکان جوړ کړې!

تاجدارِ لاهور، شیخُ المَشَائِخ، حُضُور داتا ګنج بخش علي هجویري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خپل د زماني په مشهور کتاب کشفُ المَحجُوب کښې لیکي: یو ګس د کعبې شریفې طواف کولو، په هغه وخت د هغه په خُله باندې صِرف یوه دُعا وه: اَللّٰهُمَّ اَصۡلِحۡ اِخۡوَانِي اے الله پاکه! **زما دوستان نیکان جوړ کړې-** چا ترې پوښتنه اوکړه: په دې ځائے کښې ته د ځان د پاره دُعا ولې نه کوې؟ هغه ګس ډیر د کمال جواب ورکړو، اوئې وئیل: زه (دلته په مکه مکرمه کښې یم نو په نیکو کارونو کښې مصروف یم خو ډیر زر ماته) د خپلو دوستانو خوا له تلل دي، که چرې هغوئي نیکان جوړ شول نو زه به هم نیک جوړ شم او که چرې هغوئي خراب شول نو د هغوئي خرابي به ماته هم رارسي، ځکه زه د خپلو دوستانو د پاره دُعا کووم- (1)

| | |
|---|---|
| بنادے مجھے نیک نیکوں کا صَدقہ | گناہوں سے ہر دم بچا یا الٰہی! |
| مِرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو | کر اِخلاص ایسا عطا یا الٰہی! (2) |

## یا الله! ما د خرابو خلقو نه بچ کړې---!!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! د انسان طبیعت او فِطرَت داسې دے چې بالکل یواځې ژوند نشي تیرولے، الله پاک زمونږه د انسانانو ضرورتونه د یو بَل سره داسې تړلي دي چې که مونږه غواړو او که نه غواړو خو د یو بَل سره به ژوند تیروو، مونږ ته چرته نا چرته، په څه نا څه لحاظ سره د نورو خلقو ضرورت وي- نقل دي: چې یو ګس داسې دُعا کوله: اَللّٰهُمَّ اَغۡنِنِي عَنِ النَّاس اے الله پاکه! ما د خلقو نه بے نیازه کړې- صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ چې دا واوریدل نو اوئې فرمائیل: اے انسانه! زه وینم چې ته د الله پاک نه د مرګ سوال کوې---!! **بے شکه انسانان چې تر څو پورې ژوندې دي، د یو بَل نه بے نیازه کیدے نشي-** د دې په ځائے داسې دُعا کوه: اَللّٰهُمَّ اَغۡنِنِي عَنۡ شِرَارِ النَّاس اے الله پاکه! ما د خرابو خلقو نه بچ کړې--!! (3)

## د دوستئ آداب زده کول ضروري دي؟

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! معلومه شوه چې مونږه د خلقو سره د یو ځائے پاتې کیدو، تعلقاتو وغیره نه بے

---

[1]...کشف المحجوب، مترجم، صفحہ:499بتغیر۔
[2]...وسائل بخشش، صفحہ:105۔
[3]... رسالہ ادب الاختلاط بالناس، صفحہ:56۔

نیازه کیدے نشو، تر ټولو پورې چې ژوندي یو، زمونږه به د نورو خلقو سره میلاویدل، کښیناستل پاڅیدل، دوستي، تعلق ساتل وي- هم دا وجه ده چې په دینِ اسلام کښې د دوستۍ او نیک صحبت په آدابو باندې ډیر زور ورکړے شوے دے- حُضُور داتا ګنج بخش علي هجویري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د نفس عادت دے چې د خپلو ملګرو نه راحت بیاموي، د کومِ قِسم خلقو سره چې کښیني پاځي، د هغوئي عادتونه اختیاروي، **ځکه مشائخ (یعني اولیائے کرام) د ټولو نه اوَّل د دوستۍ په حقونو باندې تَوَجو ورکوي او مُریدانو ته د دې ترغیب ورکوي، تر دې پورې چې د مشائخو تر سنګ د دوستۍ آداب زده کول او په دې باندې عمل کول د فرضو درجه لري-** [1]

## انسان د خپل دوست په دِین باندې وي

د ترمِذي شریف حدیثِ پاک دے، د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اَلرَّجُلُ عَلٰی دِینِ خَلِیْلِهٖ، فَلْیَنْظُرْ اَحَدُکُمْ مَنْ یُّخَالِلُ انسان د خپل دوست په دین باندې وي، ځکه په تاسو کښې هر یو له پکار دي چې هغوئي اوګوري چې د چا سره دوستي کوي- [2]

یعني عام طور انسان د خپل دوست سیرت او اخلاق اختیار کړي، کله نا کله د هغه مذهب هم اختیار کړي، ځکه د ښه [خلقو] سره دوستي کوئ د پاره د دې چې تاسو هم ښه جوړ شئ! او د چا سره د دوستۍ کولو نه مخکښې د هغه کره کتنه اوکړئ چې د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبرداره دے که نه- صوفیائے کرام فرمائي: د انسان په طبیعت کښې د اخستو خاصِیَّت دے، د حِرص کوونکي د صحبت سره به حِرص او د زاهد د صحبت سره به زُهد او تقویٰ میلاویږي (ځکه هر یو له پکار دي چې د چا د دوست جوړولو نه مخکښې ښه غور او فِکر اوکړي، هغه دې اوتَلِي [یعني ښه کره کتنه دې اوکړي] چې زه د چا سره دوستي کووم)- [3]

## د عقلمندۍ یوه خبره

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** په دې حدیثِ پاک باندې بیا بیا غور اوکړئ! رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اَلرَّجُلُ عَلٰی دِینِ خَلِیْلِهٖ انسان د خپل دوست په دِین باندې وي-

د دې نه پته لګي چې دوست جوړول څومره اهمه معامله ده- دلته خو خلق په لاره روان وي او دوستي ئې

---

[1]...کشف المحجوب مترجم، صفحہ:499 بتغیر-
[2]...ترمذی، کتاب الزہد، صفحہ:566، حدیث:2378-
[3]... مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحہ:599 بتغیر قلیل -

شي- یوه نیمه ګهنټه ئې په بس کښې یو ځائے سفر اوکړو، خبرې اترې اوشوې، خپل نمبر ئې ورکړو، د هغه نمبر ئې واخستو او دوستي ئې شوه بلکه اوس خو جدید دور دے، آن لائن دوستیانې کیږي، نه ئې مخامخ کَس لیدلے وي، نه ئې کره کتنه اوکړه، دا ورته هم معلوم نه وي چې زه د چا سره دوستي کووم، هغه څوک دے، بس په فیس بُک (***Facebook***)، انسټا ګرام (***Instagram***) وغیره باندې درې څلور خبرې اوشوې، فرینډ ریکویسټ (***Friend Request***) راغلے، مونږه قبول (***Accept***) کړو او دوستي شروع شوه-

څومره افسوسناک حالات دي، مونږه چې په خپو کولو د پاره پیزار اخلو نو په ټول مارکیټ کښې ګرځو، خلق د یو پیزار خوښولو د پاره څو څو ګهنټې تیروي، نو بیا ئې چرته خوښ شي او دوست---!! چاته چې په زړه کښې ځائے ورکول دي، د چا سره چې پاڅیدل دي، کښیناستل دي، هغه په خپل ژوند کښې شاملول دي، د هغه اخلاق به په مونږه باندې اثر کوي، د هغه کردار به زمونږه په کردار باندې اثر غورځوي، په دې باره کښې څه غور او فِکر نشته، څه کره کتنه نشته، بس! په خپل مینځ کښې درې څلور خبرې اوشوې او دوست جوړ شو-

الله پاک دې زمونږه په حال باندې رحم اوکړي! غور خو اوکړئ! زمونږه دوست زمونږه دین دے- ځکه د دوست په جوړولو کښې د ډیر احتیاط نه کار اخستل ضروري دي- علّامه شعراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دوست جوړولو د پاره عقلمند کیدل ضروري دي د پاره د دې چې انسان ته معلومه شي چې څوک د دوستۍ قابل دے او څوک نه- نور فرمائي: کم عقل خلق هر یو کَس دوست جوړوي، بیا ئې ورسره څلور ورځې پس جنګ اوشي او هم هغه دوست ئې دښمن شي- **عقلمند هغه دے څوک چې وړومبے تجربه اوکړي، او بیا دوست جوړ کړي-** [1]

## دوست آئینه ده

اے عاشقانِ رَسُول! دا خبره همیشه یاد ساتئ! زمونږه دوست زمونږه آئینه وي- مثلاً که چرې زه د خپلې دوستۍ د پاره د چا انتخاب کووم نو زما دا انتخاب به ښائي چې زما سوچ څنګه دے؟ زما خوښه ناخوښه څنګه ده؟ زما اخلاق، زما کردار، زما د ذهنیت (***Mentality***) پته به دا انتخاب ښائي، زما د زړه میلان به ښائي چې زه څنګه انسان یم، که چرې زه د دوستۍ د پاره د ښه انسان انتخاب کووم نو دا به دلیل وي چې زه پخپله هم ښه یم او که چرې زه خراب انسان خپل دوست جوړ کړم نو دا به دلیل وي چې زه پخپله هم خراب یم- صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: لوګے دومره اور نه په ګوته کوي، لکه څومره چې دوست خپل دوست په نخښه کوي- [2]

---

[1]... لواقح الانوار،العہد الحادی عشر بعد المائتین فی مجالسۃ الصالحین،جلد:2 ،صفحہ:42۔

[2]... ادب ا لدنیا و الدین للماوردی، باب الرابع،صفحہ:162۔

يعني که چرې مونږه د لرې نه لوګے اووينو نو مونږ ته پته اولګي چې هلته چرته اور لګيدلے دے، معلومه شوه چې لوګے اور په ګوته کوي، د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د فرمان مطلب دے چې: د لرې نه د لوګي ليدلو سره مونږ ته د اور دومره پوخ يقين نه کيږي لکه څومره چې د يو دوست د ليدو سره د بَل دوست د عادتونو، طريقو، د هغه د خوښې ناخوښې او د هغه د سوچ پته لګي۔

د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه يو بَل فرمان دے، هغوئي فرمائي: که چرې د چا جاج اخستل وي نو د هغه د دوستانو جاج واخلئ ځکه چې انسان د هغه چا سره دوستي کوي، څوک چې هغه د خپل ځان په شان ښه ګڼړي۔ (1)

## انسان د خپل ځان پشان [ګس] سره دوستي کوي

تاسو غور اوکړئ! په دُنيا کښې په زرګونو خلق دي، د چا سره چې زمونږه دوستي نه کيږي، په سوؤنو دي د چا سره چې زمونږه دوستي شي، يو ګس په سکول کښې، کالج کښې، دفتر کښې تر ډيرې مودې پورې زمونږ سره وي، د هغه سره بس صرف سلام او دُعا وي، خوږه دوستي نه کيږي خو د چا سره صرف د يو څو ګهنټو په ملاقات کښې خوږه دوستي شي، آخِر د دې څه وجه ده؟ شيخ شهابُ الدِّين سهروردي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د دې وجه ده: هم جنس کيدل۔ (2) اَلْجِنْسُ یَمِیْلُ اِلٰی جِنْسِہٖ جنس د خپل جنس طرف ته بيرته ګرځي:

پہنچی وہیں پہ خاک، جہاں کا خمیر تھا

يعني انسان چې څوک په اخلاقو کښې، کردار کښې، سوچ کښې، انداز کښې د خپل ځان په شان اووينې، هم د هغه سره دوستي کوي۔

حضرت امام مالِک رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: انسان د مرغو په شان دے، مرغئ هميشه د ځان په شان د مرغو سره وي، کونترې د کونترو سره وي، کارغان د کارغانو سره، چرګان د چرګانو سره، هيلئ د هيلو [بطخو] سره دغه شان انسان هم د خپل هم خيال، هم فِکر، هم کردار، هم اخلاق سره دوستي کوي۔ (3)

کُنَدْ ہَم جِنْس بَاہَمْ جِنْس پَرْواز | کبوتر با کبوتر، باز با باز

**ترجَمه:** هر جنس د خپل جنس سره پرواز کوي۔ کونتره د کونترو سره، کارغه د کارغانو سره۔ (4)

---

[1]... موسوعہ ابن ابی الدنیا،کتاب الاخوان،جلد:8، صفحہ:161 ،حدیث:38۔
[2]... احیاء العلوم،کتاب عوارف المعارف،باب الثالث و الخمسون،جلد:5 ،صفحہ:272 ۔
[3]... روضۃ العقلاء و نزہۃ الفضلاء لابن حبان ،ذکر ائتلاف الناس و اختلافہم،صفحہ:96۔
[4]... فتاویٰ رضویہ،جلد:15 ،صفحہ:526۔

## د دوست د کره کتنې مِعیار

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د شاتو مچۍ په ګلونو، میوؤ او ښه څیزونو باندې کښیني، دا د شاتو د مچۍ د پاکوالي، د هغې د ښه فِطرت دلیل دے خو بَله مچۍ په ګنده څیزونو باندې کښیني، دا د هغې د ګنده طبیعت اثر دے- اوس مونږ ته غور کول دي چې مونږه د چا سره کښینو، د چا سره دوستي کوو، مونږه چې د څنګ دوست انتخاب کوو، زمونږه فِطرت، طبیعت به هم هغه شان وي- شیخ شهابُ الدِّین سهروردي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې کله د چا طرف ته زړه مائل وي (یعني زړه غواړي چې زه د فلانکي سره دوستي اوکړم نو) نو پکار دي چې انسان هغه د شریعت په تَله باندې اوتَلي (اوګوري چې آیا هغه لمونځونه کوي؟ په فرضو او واجِبو باندې عمل کوي؟ سُنَّت خپلوي؟ د شریعت په رنړا کښې د هغه د اخلاقو، د هغه د کردار کره کتنه اوکړي) که چرې د هغه حالات او اَحوال د شریعت مطابق وي نو بنده دې خپل ځان له د ښه حالت زیرے ورکړي او هغه ګس د چا د دوستۍ طرف ته چې زړه مائله دے، که چرې هغه د شریعت په تَله پوره اونه خیژي، (مثلاً لمونځونه قضا کوي، روژې نه نیسي، په فرضو او واجبو ادا کولو کښې سستي کوي، خرابه خُله ئې وي، بدو اخلاقو والا، بدو عادتونو والا وي نو) انسان له پکار دي چې خپل ځان ملامته کړي، ویریږي چې هغه ته د خپل مسلمان ورور په آئینه کښې خپله بد حالي ښکاره شوې ده- (1)

الله پاک دې مونږ ته د ښه دوستانو نیک صحبت نصیب کړي-

آمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## دوست: د جنت لاره یا د دوزخ ملګرے

اے عاشقانِ رَسُول! د چا سره دوستي کول معمولي خبره نه ده، دا ډیره اهمه معامله ده، زمونږه دوست مونږه د دوزخ حقدار هم جوړولے شي او د دوزخ د لارې مُسافر هم جوړولے شي- په بُخَاري شریف کښې حدیثِ پاک دے: د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ انسان به د هغه سره وي، د چا سره چې محبت کوي- (2)

اَللهُ اَكْبَر! معلومه شوه ❀ څوک چې د جَنَّت په لاره روان دي ❀ څوک چې لمونځونه کوي، سُنَّت خپلوي ❀ نیک کارونه کوي ❀ جنَّت ته بوتلونکي عملونه کوي ❀ که چرې نن مونږه د هغوئي سره محبت کوؤ ❀ د

---

[1]…ملاحق احیاء العلوم،کتاب عوارف المعارف،باب الثالث و الخمسون،جلد:5 ،صفحہ:272 ملتقطاً۔

[2]…بخاری،کتاب:الادب،باب:علامۃ حب اللہ …الخ،صفحہ:1529،حدیث:6168۔

هغوئي سره دوستي کوؤ نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د قیامت په ورځ به د دوئي سره یو او الله دې نه کړي! که چرې نن مونږه د دوزخ په لاره د تلونکو سره کښینو ❀ څوک چې لمونځونه نه کوي ❀ روژې نه نیسي ❀ سندرې باجې اوري ❀ فلمونه ګوري ❀ کنځلې کوي ❀ جنګ جګړې کوي ❀ شراب څښي ❀ جواري کوي ❀ د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نا فرماني کوي، که چرې مونږه د داسې ګسانو سره دوستي اوکړه او خدائے دې نه کړي د توبې کولو نه بغیر د دنیا نه لاړ شو نو آه! د حدیثِ پاک مطابق به د قیامت په ورځ د دوئي سره پاڅولے شو- څکه مونږ له پکار دي چې ښه په غور او فِکر سره دوستي اوکړو-

## د کافِر د دوستئ خطرناک انجام

یو ګس وو: عُقبَه بن اَبِي مُعِیط، دا د مکې مکرمې اوسیدونکے کافِر وو- د خوږ آقا، د مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې به حاضِریدو، د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُور نه ډَکې خبرې به ئې اوریدلې، هغوئي به ئې خوښول، البته هغه کلمه نه وه وئیلې، یوه ورځ هغه خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل کور ته د دعوت دپاره اوبللو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف یوړلو، خوراک حاضِر کړے شو- رسولِ رحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: تر څو پورې چې ته کلمه اونه وائې او مسلمان نه شې، زه به ستا د کور خوراک هیڅکله هم اونه خورم- هم دغسې عُقبَه بن ابي مُعِیط په ظاهره باندې کلمه اووئیله، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوراک اوخوړلو او واپس ئې تشریف یوړلو-

د عُقبَه بن ابي مُعِیط د اُبَي بن خَلف سره دوستي وه، اُبَي بن خَلف د مکې مکرمې ډیر لوئي ظالم کافِر وو، کله چې هغه ته پته اولګیده چې عُقبَه رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له په خپل کور کښې دعوت ورکړے وو او کلمه ئې هم وئیلې ده نو هغه کافِر غصه شو، هغه عُقبَه اوغولولو او اوئې وئیل: زما او ستا د دوستئ اوس بس یو صورت دے، هغه دا چې ته د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره په بد تمیزئ سره وړاندې راشې! مَعَاذَ الله!

اوس د عُقبَه بن ابي مُعِیط سره 2 لارې وې، یو خوا د هغه دوست وو، بَل خوا د الله پاک د محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاکه لمن او د دواړو جهانونو خیر وو خو اَفسوس! عُقبَه بن ابي مُعِیط د کافِر دوستي خوښه کړه، دا بدبخته بارګاهِ رسالت ته راغلے او ده ډیره ګستاخي اوکړه [1]، په دې باندې د 19 سیپارې، د

[1] ... خازن، پاره:19،سورۂ فرقان،زیرِ آیت:27،جلد:3 ،صفحہ:312۔

سورۀ فرقان دا آیت شریف نازِل شو:

وَ یَوۡمَ یَعَضُّ الظَّالِمُ عَلٰی یَدَیۡهِ یَقُوۡلُ یٰلَیۡتَنِی اتَّخَذۡتُ مَعَ الرَّسُوۡلِ سَبِیۡلًا ﴿۲۷﴾ یٰوَیۡلَتٰی لَیۡتَنِیۡ لَمۡ اَتَّخِذۡ فُلَانًا خَلِیۡلًا ﴿۲۸﴾ لَقَدۡ اَضَلَّنِیۡ عَنِ الذِّکۡرِ بَعۡدَ اِذۡ جَآءَنِیۡ ؕ وَ کَانَ الشَّیۡطٰنُ لِلۡاِنۡسَانِ خَذُوۡلًا ﴿۲۹﴾

(پاره:19،سورۀ فرقان:27 تا 29)

ترجَمۀ کنزُ العرفان: او په کومه ورځ چې به ظالم خپل لاسونه چیچي، وائي به: اے کاش چې ما د رسول سره لاره اختیار کړے وے- هئي زما بربادي! اے کاش چې ما فلانکے دوست نه وے جوړ کړے- بے شکه هغه ماته د نصیحت راتللو نه پس د هغې نه زه بے لارې کړم او شیطان انسان د مصیبت په وخت کښې بے مرستې پرېښودو والا دے-

انسان چې کله ډیر آرمان او د پښیمانئ اظهار کوي یا ډیره غصه ورشي نو بعضې خلق غاښونه چیچي، بعضې په آرمان کښې هم په خپلو لاسونو باندې چکونه لګوي، د قیامت په ورځ به د عُقبَه بن اِبي مُعِیط هم دا حالت وي، دا به په آرمان سره په خپلو لاسونو چکونه لګوي [1] او وائي به: اے کاش! چې ما د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ملګرتیا کړے وے، کاش! چې د هغوئي په پیروئ کښې مې د جنت او نجات لاره اختیار کړے وے! هئ زما بربادي---!! کاش! ما فلانکے (یعني اُبَي بن خَلف) دوست نه وے جوړ کړے- [2]

**اے عاشقانِ رَسُول!** غور اوکړئ! عُقبَه بن اِبي مُعِیط به د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې کښیناستو، د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هدایت نه ډَکې خبرې به ئې اوریدلې، هغه د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وئیلو باندې کلمه هم وئیلې وه خو افسوس! خو د یو کافِر دوستئ هغه اوغولولو، دا د جنّت د لارې مسافر جوړ شوے وو خو غلطې دوستئ دا اوغولولو هغه له ئې بیرته د دوزخ طرف ته دیکه ورکړه- اوس چې مونږه د خپل ځان په باره کښې غور اوکړو، آه! ❀ که چرې نن مونږه خراب خلق خپل دوستان جوړ کړل ❀ څوک چې لمونځونه نه کوي ❀ نیک کارونه نه کوي ❀ د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نافرماني کوي ❀ شراب څښې ❀ جوارې کوي ❀ د سود لین دین کوي ❀ د چرسو بهنګو وغیره نشه کوي ❀ جنګ جګړې کولو والا ❀ په فیشن پرستئ کښې آخِرت هیرولو والا ❀ سرکشه او نافرمانه وي ❀ مونږه که چرې داسې

---

[1]... خازن، پاره:19،سورۀ فرقان،زیرِ آیت:27،جلد:3 ،صفحه:313-

[2]... خازن، پاره:19،سورۀ فرقان،زیرِ آیت:28،جلد:3 ،صفحه:313-

خلق دوستان کړل نو چرته سبا د قیامت په ورځ چې کله ټول تعلقات ختم شي ❁ مور به د ځوي نه تختي ❁ پلار به يو ځوي پريږدي ❁ ورور به د ورور نه لرې ځي، هغه وخت به دوستان او خپلوان څوک هم د چا د حال پوښتلو والا نه وي ❁ آه! د قیامت په هغه خطرناکه ورځ الله دې نه کړي که چرې مونږه هم په آرمان سره دا چغې وهو چې

| | |
|---|---|
| يٰوَيْلَتٰى لَيْتَنِيْ لَمْ اَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيْلًا ﴿۲۸﴾<br>(پاره:19، سورهٔ فرقان:28) | ترجَمهٔ کنزُ الایمان: هئ زما بربادي! اے کاش چې ما فلانکے دوست نه وے جوړ کړے- |

څکه نن موقع ده، چې مونږه ښه دوستان جوړ کړو، صِرف د ښه، نیک لمونځ ګزاره خلقو صحبت [ناسته پاسته] اختیار کړو-

| | |
|---|---|
| صحبتِ صالح ترا صالح کند | صحبتِ طالح ترا طالح کند |

ترجَمه: یعني د ښه [ګس] صحبت به تا ښه جوړ کړي، د خراب [ګس] صحبت به تا خراب جوړ کړي-

## د خطرې اندیښنه

اے عاشقانِ رَسُول! د بے لمانځه، شرابي، د مور پلار د نافرمانه دوستي هم اګرچه نقصان رسوي خو یاد ساتئ! د کُفّارو سره دوستي کول د ایمان د پاره د ډیرې غټې خطرې سبب دے- د مذهبي دستورو په موقع باندې د دوئي سره د لین دین معاملې کول یا د چا مذهبي تهوار له تلل، د غم ښادئ په معاملو کښې دوئي د ځان سره ساتل، خاص طور زمونږه د بچو د غیر مسلمو سره دوستي کول د مور پلار ډیره زیاته توجو غواړي- په کومو ځیونو کښې چې مسلمانان او غیر مسلمه دواړه یو ځائے اوسیږي، هلته د ډیر احتیاط ضرورت دے، الله پاک دې زمونږه د ایمان حفاظت اوکړي-

په 28 سیپاره: سورهٔ مُمتَحِنَه آیت: 1 کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَ عَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَ قَدْ كَفَرُوْا بِمَا جَآءَكُمْ مِّنَ الْحَقِّ ۚ (پاره:28، سورۂ مُمْتَحِنَه:1) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: اے ایمان والوؤ زما او خپل دښمنان دوستان مه جوړوئ تاسو هغوئي ته خبرونه رسوئ په دوستئ سره حالانکه هغوئي مُنکر دي د هغه حق نه کوم چې تاسو ته راغلے دے۔ |

په **تفسیر صراط الجنان** کښې دي چې اے ایمان والوو! کافِران خپل دوستان مه جوړوئ کوم چې زما او ستاسو دښمنان دي۔ [1] د کافِرانو سره دوستي کول، د هغوئي مدد کول، د هغوئي نه مدد غوښتل او د هغوئي سره د محبت رابطې (یعني تګ راتګ) ساتل منع دي، په مسلمانانو باندې د دینِ اسلام د هر مخالف نه بیلیدل او جدا کیدل واجب دي۔ [2]

## مونږه بے وفائي نشو کولے---

بعضې خلق کومو چې د خرابو خلقو سره دوستیانې جوړې کړې وي، هغوئي که چرې پوهه کړے شي چې وروره! د خرابو دوستانو سره کښیناستل ښه خبره نه ده، دوئي پریږده او د ښه خلقو سره کښینه! نو هغوئي ته شیطان **د وفا فلسفه** ښائي چې مونږه هیڅکله هم بے وفائي نشو کولے، چې دوستي مو ورسره شروع کړې ده نو اوس به دا په هر حالت کښې پوره کوو۔

په دې کښې وروميئ خبره خو دا ده چې مونږه د چا د دوست کیدو نه مخکښې د الله پاک بنده ګان او د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتیان یو، که چرې مونږه واقعي وفادار یو نو مونږه د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حکمونو سره څومره وفا کړې ده؟ الله او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: خراب دوستان مه جوړوئ! مونږه ئې جوړوو، الله او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د ریښتینو او ښه [خلقو] سره اوسئ، مونږه د خرابو سره کښینو۔ آخِر مونږه دلته وفادار ولې نه یو؟

هسې به هم د دوستانو وفا آخِر د کوم ځائے پورې وي؟ د قبر د کندې پورې---! بس! آه! مونږ ته معلومه نه ده چې مَلکُ الموت عَلَيْهِ السَّلَام کله د رُوح قبض کولو د پاره تشریف راوړي، بس! د دې ساه د اودریدو انتظار دے، زمونږه دا دوستان به مونږه د تیاره قبر په کنده کښې یواځې پریږدي او بیرته به لاړ شي، بیا به نه څوک دوست وي، نه یار،

[1]…تفسیر صراط الجنان،پاره :28، سورۂ مُمْتَحِنَہ ، تحت الآیة:1، جلد:10، صفحه:101۔
[2]…تفسیر صراط الجنان،پاره:6، سورۂ مائده، تحت الآیة:51، جلد:2، صفحه:448 ملتقطاً۔

نه وفاګاني وي، نه لوظونه، بَس مونږه به يو او زمونږه ښه او بد عملونه به وي- آه! بيا به د قيامت وحشتناکه ورځ راځي، هلته د بے لمانځه دوستانو پکار راتلل خو غټه خبره ده، سَکه مور به هم د يو ځوي نه مخ اَړَوي، بيا به دا وفاګاني چرته ځي؟ څوک به وي مونږه د دوزخ نه بچ کولو والا---؟

| | |
|---|---|
| مِٹادے ساری خطائیں مِری مِٹا یاربّ! | بنادے نیک بنا نیک دے بنا یاربّ! |
| بنادے مجھ کو الٰہی خُلوص کا پیکر | قریب آئے نہ میرے کبھی رِیا یاربّ! |
| اندھیری قبر کا دل سے نہیں نکلتا ڈر | کروں گا کیا جو تُو ناراض ہو گیا یاربّ! |
| گناہگار ہوں میں لائقِ جہنم ہوں | کرم سے بخش دے مجھ کو نہ دے سزا یاربّ [1] |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب          صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## وفادار دوست څوک---؟

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د قيامت ورځ د خرابو دوستيانو ختميدو ورځ ده، آؤ! يو دوست دے کوم چې به د قيامت په ورځ هم وفا کوي، هغه کوم دوست دے؟ الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

اَلْاَخِلَّآءُ يَوْمَىٕذٍۭ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ ﴿٦٧﴾ (پاره:25، سورۀ زخرف:67)

ترجَمهٔ کنزُ العرفان: په هغه ورځ به خوارۀ دوستان د يو بَل دښمنان شي سيوا د پرهيزګارانو نه-

په **تفسير صراط الجنان** کښې د دې آيت لاندې ليکلي دي: په دنيا کښې چې کومه دوستي په کُفر او ګُناه باندې وه هغه به د قيامت په ورځ په دښمنئ کښې بدله شي او ديني دوستي او هغه **محبت** کوم چې د الله پاک د پاره وو هغه به په دښمنئ کښې نه بدليږي بلکه باقي به وي- [2]

د مسلمانانو د څلورم خليفه حضرت علي المرتضیٰ رضی اللہ عنہ نه د دې آيت په تفسير کښې روايت دے، هغوئي رضی اللہ عنہ اوفرمائيل: 2 دوستان مومنان دي او 2 دوستان کافِران- په مومنانو دوستانو کښې چې يو مړ شي نو د الله پاک په بارګاه کښې عرض کوي: يا الله پاکه! فلانکے به ماته ستا او ستا د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمانبردارئ کولو او د نيکئ کولو حکم کولو او زه به ئې د ګناه نه منع کوَلَم او دا خبر به ئې راکولو چې ماته ستا په حُضُور

---

[1]... وسائلِ بخشش،صفحه:78۔

[2]... تفسيرکبير،پاره:25،سورۀ زخرف،زيرِ آيت:67 ،جلد:9، صفحه:641 ملتقطاً ۔

کښېږي حاضرېدل دي، يا الله پاکه! هغه زما نه پس مه بے لارې کوه او هغه له داسې هدايت ورکړه لکه څنګه هدايت چې دې ماله راکړے دے او د هغه داسې اکرام اوفرمايه- چې کله د هغه مومن دوست مړ شي نو الله پاک دواړه يو ځائے کړي او فرمائي چې په تاسو کښې هر يو د يو بَل تعريف کوي، نو هر يو وائي چې دا ښه ورور دے، ښه دوست دے، ښه ملګرے دے- او په 2 کافِرانو ملګرو کښې چې کله يو مړ شي نو دعا کوي: يا الله پاکه! فلانکي به زه ستا او ستا د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمانبردارئ نه منع کوَلَم او د ګناه حکم به ئې راکولو، د نيکئ نه به ئې منع کوَلَم او دا خبر به ئې راکولو چې ماته ستا په حُضُور کښې حاضرېدل نه دي، نو په هغوئي کښې هر يو، يو بَل ته خراب ورور، خراب دوست او خراب ملګرے وائي- [(1)]

## نيک دوست به هم شفاعت کوي!

معلومه شوه چې د قيامت په ورځ به د نيکانو، صالحانو او پرهيزګارانو مسلمانانو دوستي د مسلمانانو پکار راځي او هغوئي به د قيامت په ډېره سخته وحشتناکه ورځ کښې د مسلمانانو غم خوري او شفاعت کوي، هم دغسې د حضرت جابِر بن عبد الله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: جنّتي به وائي زما د فلانکي دوست څه حال دے؟ او هغه دوست به ئې د ګناهونو په وجه په دوزخ کښې وي، الله پاک به فرمائي: د ده دوست [د دوزخ نه] راوباسئ او جنت ته ئې بوځئ نو کوم خلق چې په دوزخ کښې باقي پاتې شي هغوئي به هم دغه وائي چې زمونږه څوک سفارش کولو والا نشته او نه څه غم خور دوست- [(2)]

حضرت حَسَن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ايمانداران دوستان زيات کړئ ځکه چې هغوئي به د قيامت په ورځ شفاعت کوي- [(3)]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا دي وفادار دوستان! څوک؟ متقي، پرهيزګاره، نيک لمونځ ګزاره، د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبردارئ کولو والا، جنَّت ته بوتلونکي عملونه کولو والا، د دوئي سره دوستي پکار ده، دا ښه دوستان دي، هم دغه دي کوم چې به د قيامت په ورځ هم پکار راځي- الله پاک دې مونږ له د نيکانو خلقو سره د دوستئ کولو توفيق راکړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

---

[1] ... تفسير خازن،پاره:25 ،سورۂ زخرف،زيرِ آيت:67،جلد:4،صفحہ:113۔
[2] ... تفسيرِ بغوی،پاره:19 ،سورۂ شعراء،زيرِ آيت:101 ،جلد:3،صفحہ:364۔
[3] ... تفسيرِ بغوی،پاره:19 ،سورۂ شعراء،زيرِ آيت:101 ،جلد:3،صفحہ:364۔

## د ښه او خراب دوست مثال

حُضُورِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د ښه او خراب ملګري مثال د مشک [خوشبو] اوچتوونکي او د بھټۍ تَودونکي په شان دے، مشک [خوشبو] اوچتولو والا به یا تاسو له څه درکړي یا به ترې تاسو څه واخلئ او یا به تاسو د هغه نه ښه خوشبو بیامونځئ او د بھټۍ تودولو والا به یا ستاسو جامې اوسوزوي او یا به تاسو د هغه بدبو بیامومئ۔ [(1)]

سُبْحٰنَ اللہ! څومره پاکیزه مثال دے د کوم په ذریعه چې پوهه کړے شوي یو چې د خرابو صحبت فائده او د ښه خلقو صحبت کله هم نقصان نشي درکولے، د بهټۍ والا نه به مشک [خوشبو] نه میلاویږي ګرمي او لوګے به میلاویږي، د مشکو والا نه به نه ګرمي میلاویږي نه لوګے بلکه مشک یا خوشبو به میلاویږي۔ د دې اعلیٰ فرمان مقصد دا دے چې تر خپله وَسه پورې د خراب صحبت نه ځان ساتئ څکه چې دا دین او دنیا [دواړه] بربادوي او ښه صحبت [ناسته پاسته] اختیار کړئ چې د دې سره به دین او دنیا [دواړه] ښه شي۔

مار بد تنہا ہمیں بر جاں زند | یار بد بر دین و بر ایمان زند [(2)]

**وضاحت**: د مار صحبت ژوند اخلي، د خراب یار صحبت ایمان بربادوي۔

## د صحبت اَثر څنګه کیږي---؟

دلته چې که چرې اَولاد د خرابو دوستانو سره کښیني پاڅي نو مور پلار هغوئ پوهه کوي خو اَولاد هغوئ له ډیر دلیلونه ورکوي: فلانکے خو ماته څه خرابه خبره نشي ښودلے، هغه خو ډیر ښه دے، تاسو ته هسې په هغه کښې خرابیانې ښکاري۔

داسې اولاد له پکار دي چې د مور پلار خبره اومني، مور پلار ته چې د څه پته ده، زمونږه د ماشومانو ذهن هغې ته نشي رسیدے، هسې خو هم څوک د خرابې خبرې کولو سره خو به دا نه وائي چې زه خراب یم؟ مثلاً څوک بے لمانځه دے، هغه به دا په خُله نه وائي چې ته لمونځ مه کوه! څوک چې بد اَخلاقه دے هغه به دا په خُله نه وائي چې: ته هم بد اَخلاقي کوه! کنځلې کوه! یو دوست به هم داسې نه کوي، که چرې هغه داسې اوکړي نو څوک به د هغه سره دوستي کوي--؟ خراب دوست یوه بهټۍ ده، څوک چې د دې خوا ته کښیني، د اور سپرغئ به د هغه طرف ته ضرور راځي۔

---

[1]... بخاری ، کتاب الذبائح والصید ، باب المسک ،صفحہ:1410، حدیث:5534۔

[2]... مرآۃ المناجیح ،جلد:6،صفحہ:590 تا 591 ملتقطًا۔

چې مونږ لږ غور اوکړو! مونږه شريعت د صحبت د ښه او خرابو اثراتو نه خبر کړي يو، اَلصُّحۡبَةُ مُؤَثِّرَۃ صحبت اثر کوي-

سُوال دا دے چې د صحبت د اثر کولو انداز څه وي؟ د چا صحبت [ناسته پاسته] په مونږ باندې په کومه ذريعه اثر کوي؟ امام راغب اَصفَهاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دا راز راښکاره کړے دے، هغوئي فرمائي: خراب دوست د خپل دوست عادتونه په خپلو خبرو او کارونو سره نه خرابوي بلکه صِرف د هغه طرف ته د کتلو سره هم عادتونه خرابيږي- [1]

اَللهُ اَکۡبَر! معلومه شوه چې زمونږه دوست که چرې مونږ ته خرابې خبرې اوکړي او که اونکړي، مونږه د ګناه طرف ته بوځي او که بونځي، د هغه د خراب صحبت اَثر به هغه ته د کتلو سره کيږي، مونږه چې څنګه هغه ته ګورو، زمونږ په زړه باندې به اثر غورځيږي، آخِر به يوه ورځ راشي چې مونږه به د خراب دوست په رنګ کښې رنګ شو- ځکه بهتره ده چې مونږه د خراب دوست نه د وړومبئ ورځې نه ځان اوساتو، د هغه په خوا هم نه ورځو-

## خراب ملګرے د دوزخ ټوټه

د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د خراب ملګري نه ځان بچ ساتئ ځکه چې هغه د دوزخ يوه ټوټه ده، د هغه محبت به تاسو له فائده نه درکوي او هغه به ستاسو سره خپله وعده نه پوره کوي- [2]

## د خراب صحبت عبرتناک انجام

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! راځئ! زه تاسو ته د خراب صحبت په خطرناک انجام باندې عبرتناکه واقعه اورووم: شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په خپل کتاب **نیکی کی دعوت** په صفحه: 290 باندې ليکي: د پنجاب (پاکستان) په يوه محله کښې څه عجيبه بدبو خوره شوه، د علاقې والوو د ډيرو کوششونو نه پس بيا چرته د بدبو پته اولګيده، هغه بدبو د يو بند کور نه راتلله- نو پوليس ته اطلاع ورکړے شوه- کله چې پوليس والوو د خلقو په موجودګئ کښې تالا ماته کړه او کور ته ننوتل چې اوئې کتل نو په ټولو باندې غونے ځيګ ځيګ شو چې هلته په کټ کښې د يو ځلمي مَړے پروت وو او د هغه

---

[1] ...كتاب الذريعه الى مكارم الشريعه،فصل الخامس ،الحث على مصاحبة الاخيار ،صفحه:259۔

[2] ... فردوس الاخبار،جلد:1،صفحه:224، حديث:1573۔

[د بدن] بعضې اندامونه خراب شوي وو او په هغې کښې چينجي ګرځيدل- دا نظاره چې ئې اوليدله نو ډير خلق بے هوشه شول- په تحقيق کولو پته اولګيده چې دا ځلمے د محنت مزدورئ د پاره دې علاقې ته [د بَل ځائے نه] راغلے وو، د کرايه په کور کښې اوسيدو او د بعضې جوارګرو سره د هغه دوستي وه- يوه ورځ دې ځلمي د خپلو دوستانو نه په جوارئ کښې ډيرې زياتې روپۍ اوګټلې، روپو بائللو والا دوستانو ئې د روپو واپس اخستو د پاره په مرئ کښې رسۍ واچوله او د بجلۍ شاټونه ئې ورله ورکړل او مړ ئې کړو، دا ئې د کفن دفن کولو بغير پريښودو او تالا ئې اولګوله او اوتختيدل-(1)

اے عاشقانِ رَسُول! دا دے د خراب صحبت خطرناک انجام--!! الله پاک دې مونږه د خرابو دوستانو نه محفوظ کړي-

آمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## دوستان څنګه جوړ کړو---؟

په 11 سيپاره، سورۀ توبه، آيت: 119 کښې الله پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ كُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ (پاره:11، سورۀ توبه:119) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: اے ايمان والوو د الله نه ويريږئ او د رينښتينو سره شئ- |

په **تفسير صراط الجنان** کښې دي: د دې آيت نه د نيکانو خلقو په صحبت کښې د کښيناستو هم ثبوت ميلاويږي ځکه چې د دوئي سره د کيدلو يو صورت د دوئي صحبت اختيارول هم دي او د دوئي د صحبت اختيارولو يو اثر دا کيږي چې د دوئي سيرت او کردار او ښه عملونه اوويني نو ځپله به د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيکو کولو توفيق ميلاويږي او يو اثر دا وي چې د زړه سختي ختميږي او په دې کښې خواه خوږي او نرمي محسوسيږي، په ايمان سره د خاتمې او د قبر او حشر د وحشتناکو معامِلو فِکر نصيب کيږي، ځکه هر مسلمان له پکار دي چې هغوئي د نيکانو بنده ګانو سره تعلقات جوړ کړي او د هغوئي صحبت اختيار کړي-(2)

او د ديندارہ دوست لټولو ترغيب ورکولو سره د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ

---

[1] ...نیکی کی دعوت،صفحہ:290۔

[2] ... تفسير صراط الجنان، پاره:11،سورۂ توبہ،زیرِ آیت:119 ،جلد:4،صفحہ:258۔

فرمائي: ربښتوني دوستان لټوئ او د هغوئي په پناه کښې ژوند تيروئ ځکه چې دوئي د خوشحالئ په حالت کښې ښکلا او د ازميښت په وخت سامان دے- او د يو ګنهګار صحبت مه اختياروئ ګني نو بيا به د هغه نه ګناه زده کوئ- (1)

## د علمائے کرامو په صحبت کښې کښيناستل عِبادت دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږ له پکار دي چې د علمائے کرامو په صحبت کښې کښينو، د دوئي سره دوستي کوؤ، د الله پاک د رضا د پاره د عاشقانِ رسول علمائے کرامو سره محبت کوؤ- د صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عبّاس رضی اللہ عنہ نه روايت دے: د علمائے کرامو په صحبت کښې کښيناستل عبادت دے- (2)

د کنزُ العمال شريف حديثِ پاک دے، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائيل: څوک چې د علماؤ په صحبت کښې کښيناستو تحقيق هغه زما په صحبت کښې کښيناستو او څوک چې زما په صحبت کښې کښيناستو يقيناً هغه د الله پاک په بارګاه کښې کښيناستو- (3)

حضرت سفيان بن عُيَينه رحمۃ اللہ علیہ اوفرمائيل چې د حضرت عيسیٰ علیہ السلام ارشاد دے: د داسې خلقو صحبت اختيار کړئ د چا د شکل ليدلو سره چې تاسو ته الله رایاد شي، د چا خبرې چې ستاسو عِلم زيات کړي، د چا عمل چې تاسو له د آخرت شوق درکړي- (4)

## د ښه دوست 5 صفتونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دوست دې څنګه وي؟ په دې تعلق سره حُجَّةُ الاسلام، امام محمد بن محمد غزالي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د انسان د پاره د هغه د خصلتونو او صفتونو نه ځان خبرول ضروري دي د کومو په وجه چې د چا د صحبت په اختيارولو کښې رغبت کولے شي- نور فرمائي: صِرف د داسې کَس صحبت اختيارول پکار دي په کوم کښې چې دا 5 خوبيانې وي:

## وړومبے صفت: چې عقلمند وي

امام غزالي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د کم عقل سره د کښيناستو هيڅ فائده نشته، که د هغه ملګرتيا هر څومره

---

1 ...احياء العلوم،کتاب: آداب الالفة ...الخ،باب :الاول ، جلد:2،صفحه:212 ملتقطًا-

2 ...مسند فردوس،جلد:4،صفحه:156،حديث:6486-

3 ...کنز العمال،کتاب:العلم ،باب :الاول فی الترغيب فيه،جز:10،جلد:5 ،صفحه:74 ،حديث:28879-

4 ...جامع بيان العلم و فضله ،باب جامع فی آداب العالم و المتعلم،جلد:1،صفحه:416 ،رقم:815-

اوړده وي انجام ئې آخِر وَحشَت او جدائي وي- د عقلمند صحبت اختیارول دې د پاره هم ضروري دي چې کم عقل ګس که چرې تاسو ته د فائدې رسولو او ستاسو د مدد کولو اراده کوي نو بیا هم تاسو ته نقصان رسوي او هغه ته د دې خبرې پته هم نه وي- وئیلے شوي دي چې **د کم عقل نه لرې تلل الله پاک ته د نزدې کیدو ذریعه ده-** [1]

وئیلے کیږي چې: یو ښکاري یو ځل ځنګل ته د ښکار د پاره لاړے، هغه اولیدل چې هلته یوه شادو ده، د کومې په خپه کښې چې غَنَه تَلې ده، د ښکاري په شادو باندې زړه خوږ شو او د هغې د خپې نه ئې هغه غَنَه راویستله، بس! د دې خواه خوږئ په وجه باندې د شادو او د ښکاري دوستي شوه، شادو به د ښکاري سره اوسیدله، خلقو ښکاري ډیر پوهه کړو چې شادو یوه کم عقل ځناور دے، د دې دوستي به تاته نقصان اورسوي خو ښکاري د چا په خبره غوږ نه ګرولو- یوه ورځ داسې اوشو چې ښکاري اوده وو، شادو د هغه سره خوا ته کښیناستله او هغه ته ئې ببوزے وهلو، ناڅاپه یوه مچئ د چرته نه راغله او د ښکاري په پوزه باندې کښیناستله، شادو د ښکاري سره خواه خوږي کوله او مچئ ئې پاڅوله خو مچئ لړه شان ضِدي وه، شادو یو ځل مچئي پاڅوله، هغه بیا راغله او هم هلته کښیناستله، یو څو ځل هم داسې اوشو، آخر شادو له غصه ورغله او هغې د خپل طرف نه د خپل دوست سره ښیګړه کول غوښتل او یوه ګټه ئې اوچته کړه او په پوزه باندې ناسته مچئي ئې پرې ویشتله، مچئي خو الوتے شوه، هغه والوتله، په ګټه باندې د ښکاري پوزه اولګیدله او هغه زخمي شو- د کم عقل د دوستئ هم دغه انجام وي، ځکه پکار دي چې مونږه د عقلمند سره دوستي اوکړو-

## دویم صِفت: چې د ښه اخلاقو مالِک وي!

د چا صحبت چې خپل کړے شي ضروري خبره ده چې د هغه اخلاق دې هم ښه وي ځکه چې د بدو اخلاقو لرونکے انسان که هر څومره هم عقلمند وي، چې کله په هغه باندې غصه، خواهش، کنجوسي یا بزدلي وغیره غالِبه شي نو هغه په خپل نفس پسې ځي- داسې هغه بعضې وخت پخپله هم په هلاکت کښې غورځیږي او خپل دوستان هم په هلاکت کښې غورځوي-

---

[1]...احیاء العلوم،کتاب: آداب الالفۃ ...الخ،باب :الاول ، جلد:2،صفحہ:211 ملتقطًا۔

## دریم صِفت: چې فاسِق نه وي

د ښه دوست دریم صِفت دا دے چې هغه فاسِق (یعني په ګناهونو کلک اودریدو والا یا ښکاره ګناه کوونکے) نه وي- الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَلَا تُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ وَكَانَ اَمْرُهٗ فُرُطًا ﴿۲۸﴾ (پاره:15، سورۂ کہف:28) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: او د هغه خبره مه منئ د چا زړه چې مونږه د خپل یاد نه غافِله کړو او هغه په خپلو خواهشونو پسې روان شو او د هغه کار د حد نه تیر شو- |

په یو ځائے کښې ئې ارشاد اوفرمائیلو:

| | |
|---|---|
| فَاَعْرِضْ عَنْ مَّنْ تَوَلّٰى ﳔ عَنْ ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ اِلَّا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿۲۹﴾ (پاره:27، سورۂ نجم:29) | ترجَمۂ کنزُ العرفان: نو تاسو د هغه نه مخ واوړوئ څوک چې زمونږه د یاد نه واوړیدو او هغه صرف د دنیا ژوند اوغوښتو- |

ځکه د ګنهګارانو او فاسِقانو د صحبت نه همیشه ځان بچ ساتئ چې څوک د ګناه عادت لري، د هغه صحبت بعضې وخت د غټې بربادئ سبب جوړیږي-

## د شرابیانو د صحبت خطرناک انجام

علّامه احمد ذهبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: یو کَس به د شرابیانو په صحبت کښې کښیناستو، کله چې د هغه د مرګ وخت رانزدې شو نو چا هغه ته د کلمې شریفې وئیلو تلقین اوکړو خو افسوس! د هغه په آخري وخت کښې کلمه وئیل نصیب نه شوه، د کلمې په ځائے هغه اووئیل: ته هم اوڅښه او په ما هم اوڅښه! دا ئې اووئیل او هغه د دنیا نه رُخصت شو- داسې چې د یو شطرنج کولو والا آخِري وخت راغلے نو هغه ته د کلمې وئیلو تلقین اوکړے شو، په دې باندې هغه د کلمې وئیلو په ځائے اووئیل: شَاهَكَ (یعني ستا بادشاه)، دا ئې چې اووئیل نو هغه ساه ورکړه-(1)

آه سلبِ ایمان کا خوف کھائے جاتا ہے | کاش کے مِری ماں نے ہی نہیں جنا ہوتا(2)

---

[1]...الکبائر للذہبی،الکبیرۃ العشرون،فصل فی النرد و الشطرنج،صفحہ:65 تقدیم و تاخیر۔
[2]... وسائلِ بخشش،صفحہ:158۔

## څلورم صِفت: چې ګمراه [بے لارې] نه وي

د ښه دوست څلورم صفت دا دے چې هغه ګمراه [بے لارې] او بد مذهبه (یعني د اهلِسُنَّت د مذهب په ضرورتونو کښې د یوې خبرې نه انکار کوونکے) نه وي- ځکه چې د بد مذهبه صحبت د ایمان د پاره ډېر خطرناک دے- په دې وجه د بنده عقیدې خرابیږي، زړه توریږي، ایمان کمزورے شي او انسان د الله او د رسول صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ګستاخۍ باندې زَړَوَر شي-

د تحصیل پهالیه (پنجاب، پاکستان) د اوسیدونکي اسلامي ورور د بیان خلاصه ده چې د دعوتِ اسلامي دیني ماحول ته د راتللو نه مخکښې [ماته] د بد مذهبو صحبت حاصل وو، د کوم په نحوست [سپیره توب] سره چې زه د انبیائے کرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام د تعظیم او د اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْهِم د محبت نه محرومه ووم- د عاشقانِ رسول او د اولیائے کرامو د غلامانو نه مې دومره نفرت وو چې زما ترۀ چا چې د عاشقانِ رسول د دیني تحریک دعوتِ اسلامي د دیني ماحول سره تعلق لرلو کله چې به هغه زمونږه کور ته راتللو نو زما په زړه کښې به د نفرت اور بَل شو، هغه ته به مې په سپک نظر نیغ نیغ کتل او د هغه سره به مې یو څو خبرې کول هم نه خوښولې- کیدے شي چې هم داسې زما د ژوند ماښام شوے وے او سبا د قیامت په ورځ د آرمان او پښیمانۍ سره مخ شوے وے خو په ما باندې زما د رَبّ کرم اوشو او د څه کار په باره کښې لاهور ته د ترۀ کور ته لاړم- یوه ورځ هغه د دعوتِ اسلامي په هفته واره د سُنَّتو نه په ډَکه اجتماع کښې د شرکت کولو اووئیل، د نه غوښتلو باوجود هم ما هغه منع نه کړے شو او په اجتماع کښې مې شرکت اوکړو، خو دلته هم زما په سترګو باندې د نفرت او دښمنۍ تړلے شوې پټۍ لرې نه شوه- په قسمت کښې چونکه د بد مذهبۍ د پنجې نه نجات حاصلیدل او د عاشقانِ رسول صحبت لیکلے وو ځکه یو ځل د دیني ماحول سره د تعلق لرونکي یو اسلامي ورور سره زما ملاقات اوشو، هغه د شفقت نه په ډَک انداز کښې په ما باندې ځانله کوشش اوکړو او ماته ئې د الله پاک په لاره کښې د سفر کولو ترغیب راکړو، پته نه لګي چې د هغه په خبرو کښې څه اثر وو چې ما لاس په لاس د یوې میاشتې په مدني قافله کښې د سفر کولو یواځې اراده اونکړه بلکه د مدني قافِلې مسافر هم جوړ شوم-

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د عاشقانِ رسول نزدې والے څه نصیب شو چې زما د ژوند انداز هم بدل شو، د ښکلو ښکلو بیانونو او ښکلو ښکلو نعتونو او خوږو خوږو سُنَّتو زده کولو او نورو ته د ښودلو حلقو خو زما سوچ بدل کړو، په زړه کښې مې د الله پاک سره د محبت او د مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عشق شمع روښانه شوه او ماته د زړه سکون میلاؤیدل شروع شو، په سترګو باندې تړلې د بغض او دښمنۍ پټۍ لرې شوه او د دعوتِ اسلامي سره نفرت په محبت کښې

بدل شو- په سر مې د عمامې [پټکي] شريف تاج په سر کړو او د شيخ طريقت اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مُريد جوړ شوم او د هغوئي د کرم لمن مې اونيوله- د مدني قافِلې نه په بيرته راتللو ما د بد مذهبو سره ناسته پاسته پرينښوده او د خپل ظاهر او باطن نور ښکلي کولو د پاره مې په تربيتي کورس کښې داخله واخستله- [1]

## پينځم صفت: چې د دُنيا حِرص نه لري

مونږ ته چې څوک دوست جوړول دي، د هغه پينځمه خوبي دا ده چې مونږه چې څوک دوست جوړول غواړو، هغه د دنيا لالچي نه وي- ځکه چې لالچي انسان د يو څو روپو په لالچ کښې څه نا څه کوي-

## دريمه ډوډئ څه شوه---؟؟

د حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام په خِدمت کښې يو سړي عرض اوکړو: يَارُوْحَ الله! زه ستاسو په خِدمت کښې د پاتې کيدو سره [ستاسو] خِدمت کول غواړم او د شريعت عِلم حاصلول غواړم، هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام هغه له اجازت ورکړو، تلل تلل چې کله دواړه د يو نهر غاړې ته اورسيدل نو هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائيل: راځه چې ډوډئ اوخورو! د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام سره 3 ډوډئ وې، چې دواړو يوه يوه ډوډئ اوخوړله نو حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د نهر نه اوبه څښلې، هغه ګس دريمه ډوډئ پټه کړه- کله چې هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام اوبه اوڅښلې او بيرته ئې تشريف راوړلو، ډوډئ چې ئې اونه ليدله نو اوئې فرمائيل: **دريمه ډوډئ څه شوه؟** هغه دروغ اووئيل چې: ماته پته نشته، هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام چپ پاتې شولو-

لږ سعت پس ئې اوفرمائيل: راځه چې مخکښې ځو! په لاره کښې ورته يوه هوسئ ميلاؤ شوه د کومې سره چې 2 بچي وو، هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د هوسئ يو بچے د ځان خوا ته راوبللو، هغه راغلے، هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام هغه ذبح کړو، ورِيت ئې کړو او دواړو په شريکه اوخوړلو- د غوښې خوړلو نه پس هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام هډوکي راجمع کړل او اوئې فرمائيل: قُمْ بِاِذْنِ الله (د الله پاک په حکم سره ژوندے شه او اودريږه) د هوسئ بچے ژوندے شو او د خپلې مور سره لاړے- هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام هغه ګس ته اوفرمائيل: ستا دې په الله پاک باندې قسم وي! چا چې ماته د دې معجزې ښودلو قدرت عطا کړو- رښتيا اووايه، **هغه دريمه ډوډئ څه شوه؟** هغه اووئيل: ماته پته نشته- اوئې فرمائيل: راځه چې مخکښې ځو- تلل تلل يو درياب ته اورسيدل، هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د هغه کس لاس اونيولو او په اوبو باندې د پاځه

---

[1] ... عشقِ رسول،صفحه:50۔

روان شول او د دریاب بَل اړخ ته اورسیدل، هغوئي عَلَیْہِ السَّلام هغه ګس ته اوفرمائیل: ستا دې په هغه خدائے باندې قسم وي! چا چې ماته د دې معجزې عطا کولو قدرت عطا کړو، ربښتیا اووایه چې **هغه دریمه ډوډئ څه شوه؟** هغه اووئیل: ماته پته نشته- هغوئي عَلَیْہِ السَّلام اوفرمائیل: راځه چې مخکښې ځو- تلل تلل یو ریګستان[ یوې دشتې] ته اورسیدل، هغوئي عَلَیْہِ السَّلام د شَګې یو ډیرے جوړ کړو او اوئې فرمائیل: اے د شَګې ډیریه! د الله پاک په حکم سره، سرَه زَر جوړ شه- هغه فوراً سرَه زَر جوړ شول، هغوئي عَلَیْہِ السَّلام د هغې 3 حصې کړې بیا ئې اوفرمائیل: دا یوه حصه زما ده او یوه حصه ستا او یوه حصه د هغه چا چې هغه دریمه ډوډئ واخستله- دا ئې چې واوریدل نو هغه ګس سمدستي اووئیل: یَا رُوحَ الله! هغه دریمه ډوډئ هم ما اخستې وه- هغوئي عَلَیْہِ السَّلام اوفرمائیل: دا ټول سرَه زَر هم ته واخله- بیا ئې هغه ګس پریښودو او مخکښې ئې تشریف یوړلو- دې ګس سرَه زَر په څادر کښې واچول او یواځې روان شو، په لار کښې د هغه سره 2 کسان میلاؤ شول، هغوئي چې کله اوکتل چې د ده سره، سرَه زَر دي نو د ده د وَژلو د پاره تیار شول د پاره د دې چې سرَه زَر ترې واخلي- هغه ګس د ځان بچ کولو د پاره اووئیل: تاسو ما ولې وژنئ! مونږه دا سرَه زَر 3 حصې کوو او یوه یوه حصه اخلو- هغه دواړه کسان په دې رضا شول- هغه ګس اووئیل: بهتره دا ده چې په مونږ کښې یو کس لږ شان سرَه زَر واخلي او نزدې ښار ته لاړ شي او خوراک واخلي او راوړي د پاره د دې چې خوراک ښناک اوکړو او سرَه زَر تقسیم کړو- هم دغسې په دوئي کښې یو کس ښار ته لاړے، خوراک ئې چې واخستو او واپس تللو نو هغه سوچ اوکړو، بهتره دا ده چې په خوراک کښې زهَر واچووم د پاره د دې چې هغه دواړه مړه شي او ټول سرَه زَر هم زه واخلم- دا سوچ ئې اوکړو او هغه زهَر واخستل او په خوراک کښې ئې ګډ کړل- هلته هغه دواړو دا سازش اوکړو چې څنګه هغه [بَل ګس] خوراک راوړي مونږه دواړه به په شریکه هغه مړ کړو او بیا به ټول سرَه زَر په خپل مینځ کښې نیم کړو- هم دغسې چې کله هغه بَل کس خوراک راوړو نو دې دواړو هغه اووژلو- د هغې نه پس په خوشحالئ سره خوراک ته کښیناستل نو زَهرو خپل کار شروع کړو او دا دواړه هم ښه په سخته مړه شول او سرَه زَر هم داسې پاتې شول- بیا چې کله حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلام راواپس شو نو یو څو سړي د هغوئي عَلَیْہِ السَّلام سره وو هغوئي عَلَیْہِ السَّلام سرو زَرو او دریو واړو مړو ته اشاره اوکړله او د لارې ملګرو ته ئې اوفرمائیل: **اوګورئ د دُنیا دا حال دے بس په تاسو باندې لازم دي چې د دې نه ځان بچ کړئ- (1)**

---

[1]... اتحافُ السّا دَ ةِ المُتّقِینَ،کتاب:ذم البخل و ذم حب المال ، جلد:9،صفحه:835۔

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوکتل! د دنيا او د دې د مال او دولت د لالچيانو څه انجام شو، تړولو د مال په حِرص کښې يو بَل مړ کړو- الله پاک دې مونږه د حِرص نه هم بچ کړي او د نيکانو خلقو سره د دوستئ کولو توفيق دې هم را کړي-

آمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## دعوتِ اسلامي او نيک صحبت ورکول

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نيک صحبت موندلو يوه طريقه دا ده: چې مونږه د نيک، پرهيزګاره، د الله نه د ويريدونکو، د آخرت فِکر کوونکو خلقو سره کښينو نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! زمونږ به هم نيک صحبت نصيب شي- د نيک صحبت حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول سره په مدني قافلو کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ، په خپلو ښارونو کښې په کيدونکو د سُنَّتو نه په ډَکو اجتماع ګانو کښې شرکت کوئ، د اميرِ اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د عطا کړے شوې رسالې نيک اعمال مطابق د ژوند تيرولو کوشش کوئ، په مدرسة المدينه بالغان کښې شرکت کوئ او د قرآن پاک فيضان حاصل کړئ، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د هر خالي په ورځ د ماسخوتن د لمونځ نه پس په مدني چينل باندې نيغ په نيغه (*Live*) مدني مذاکره فرمائي په دې کښې شرکت کوئ، په سوشل ميډيا (يعني فيس بک (*Facebook*)، انسټا ګرام (*Instagram*)، واټس ايپ (*WhatsApp*)، ټوئټر (*Twitter*)، يوټيوب (*YouTube*) باندې د دعوتِ اسلامي مختلف پيجونه (*Pages*) جوړ شوي دي دا ګورئ اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! ښه صحبت به حاصليږي- الله پاک دې د عمل کولو توفيق را کړي-

آمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## د دوستئ په باره کښې د اميرِ اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرامين

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! راځئ! د دوستئ په باره کښې د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرامين اورو: ❀ د ښه دوست پيژندلو د پاره د هغه سره سفر کوئ يا څه معامله مثلاً اخستل خرڅول وغيره کوئ ❀ د غيبت کوونکي او تهمت لګوونکي کَس سره دوستي مه کوئ، لرې ترې اوسئ ❀ د دنيا د دوستئ مې ډير نقصانونه ليدلي دي ❀ څوک چې وَزګار وي هم هغه ذاتي دوستيانې کولے شي، څوک چې د دين په کارونو کښې

مصروف وي، د هغوئي سره د ذاتي دوستئ د پاره وخت نه وي ❁ ذاتي دوستئ کولو والا د دعوتِ اسلامي د يوې عُهدې [ځوکئ] د پاره هم ښه نه دے ❁ څوک چې د دين کار کول غواړي، هغه دې د ذاتي دوستيانو نه ځان ساتي ❁ د بدې عقيدې والا دوستي په اور کښې د لاس ورکولو نه زيات نقصان رسوي ❁ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په نيک اعمال رساله کښې فرمائي: آيا ستاسو د يو يا د يو څو [کَسانو] سره په دنيائي طور باندې ذاتي دوستي خو نشته؟ (ذاتي دوستياني او ډلې، د تنظيمي کارونو په ترقئ کښې عام طور خَنډ جوړيږي-)

الله پاک دې مونږه د خرابو دوستيانو نه محفوظ کړي-

آمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدني قافله

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دنيا او آخِرت د خير موندلو، د لمونځونو د پابندئ کولو، د ځان او د نورو د اِصلاح د کوشش کولو او د ثواب د ذخيرې جمع کولو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمن اونيسئ او څومره چې کيدے شي د دعوتِ اسلامي په 12 ديني کارونو کښې هم عملاً حصه واخلئ- په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار مدني قافله هم دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دين د تبليغ د پاره، په ټوله دنيا کښې د سُنَّتو خپرولو د پاره، ځپله د لمونځونو د پابندئ کولو او د نورو خلقو د لمونځونو عادت لرونکي جوړولو د پاره د دعوتِ اسلامي د لاندې هره مياشت په زرګونو اسلامي ورونړه په مدني قافلو کښې سَفر کوي او مختلفو علاقو ته ځي او د نيکئ د دعوت عام کولو سعادت حاصلوي، تاسو هم همت اوکړئ، د الله پاک دين له وخت ورکړئ، الله پاک په مونږه څنګه څنګه انعامونه کړي دي، مونږ له ئې ساه ګانې راکړې دي، هره ورځ مونږ له رِزق راکوي، زمونږه مشکلات حل کوي، مونږ له ئې لاسونه خپې راکړلې، د پوزې، غوږونو، سترګو، ژبې نعمت ئې راکړو، د هغه رحمان او رحيم مالک په حکمونو باندې عمل اوکړئ، د هغه دين په ټوله دنيا کښې د خپرولو د پاره وخت اوباسئ او د دې نيک مقصد د پاره د دعوتِ اسلامي ملګرتيا اوکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د دنيا او آخرت ډير خير به مو نصيب شي- راځئ! د ترغيب د پاره د مدني قافلې يو مدني سپرلے اورو!

## شرابي، مؤَذِّن جوړ شو

د هندوستان د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته د راتللو نه مخکښې زه د ګناهونو د مرض ښکار ووم، شراب به مې څښل، کنځلې به مې کولې او مور او پلار او د محلې والا به مې ښه سم تنګول، آخِر زما بخت رابيدار شو او زما ملاقات د دعوتِ اسلامي د يو ذِمه وار اسلامي ورور سره اوشو، هغه ځانله کوشش اوکړو او زه ئې (پوهه کړم) او ماته ئې په مدني قافله کښې د سفر کولو ترغيب راکړو، ما انکار اونکړے شو او زه فوراً د 3 ورځو د مدني قافلې مُسافر جوړ شوم، د عاشقانِ رسول صحبت ميلاؤ شو او د شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رسالې هم د لوستلو د پاره ميلاؤ شوې، د کومو په برکت چې زه يواځې لمونځ ګزاره جوړ نه شوم بلکه نور [خلق] د سحر د لمونځ د پاره د راپاڅولو او په مدني قافِلو کښې سفر کولو والا هم جوړ شوم- دا وخت زه په يو جُمات کښې مؤَذِّن يم او ښه ډير ديني کارونه کووم- [1]

بے عَمَل، باعَمَل بَن گئے خاص کر | آپ بھی دیکھ لیں، قافلے میں چلو
دِل پہ گر زَنگ ہو، سارا گھر تنگ ہو | داغ سارے دُھلیں، قافلے میں چلو[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ماهنامه فيضانِ مدينه ايپلي کيشن پيژندګلو

اے عاشقانِ رَسُول! د دعوتِ اسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا ماهنامه فيضانِ مدينه ايپلي کيشن معارفي کړے شوے دے، په دې ايپلي کيشن کښې دا بهترين آپشنز (***Options***) موجود دي: ❁ د مخکښينو ټولو ماهنامه فيضانِ مدينه ***PDF*** ❁ د ټولو ماهنامو مضامين (آرټيکلز) په ليکلي شکل کښې موجود دي، کوم چې د کاپي کولو سره شيئر کيدے هم شي ❁ سرچ آپشن (***Search option***) په کوم کښې چې په ټولو ماهنامو کښې د سرچ کولو سره هر يو څيز لټولے شي ❁ ټول مضامين د موضوعاتو په اعتبار سره ترتيب کړے شوي دي، په خپل سمارټ فون کښې دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ (***Download***) کړئ! پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... شرابی مؤذن کیسے بنا؟ صفحہ:4۔
[2]... وَسَائِلِ بخشش، صفحہ:672۔

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! بیان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضیلت او د ژوند د ځینو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي:

مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ

چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي- [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## شُکر ادا کول سُنَّت عمل دے

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامین: (1): د بنده په هره لمړئ او هر ګوټ باندې د الله کريم شُکر ادا کول د الله پاک ډير خوښ دي- [2] (2): خپلې ژبې په ذِکر سره او د زړه په شُکر سره لمدې اوساتئ!- [3]

اے عاشقانِ رَسُول! شُکر ادا کول سُنَّت عمل دے ❀ د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ډير زيات شُکر ادا کولو ❀ هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم ناشُکري نه ده کړې ❀ شُکر اعلیٰ عبادت دے ❀ د شُکر اد کولو سره نعمت زياتيږي ❀ بنده ته چې نعمت ميلاؤ شي، بنده دې شُکر ادا کړي، د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! بنده د عذاب نه محفوظ وي- [4]

د شُکر ادا کولو طريقه: ❀ حضرت ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: نعمت ته د کتلو په ځائے، نعمت ورکوونکي ته نظر کول شُکر دے- [5] مثلاً تاسو ته تنخوا ميلاؤ شوه، دا هم نعمت دے، په امتحان کښې پاس شوئ، ځوي يا لور مو اوشوه، د لمونځ کولو توفيق ميلاؤ شو، د روژې نيولو سعادت ميلاؤ شو، صدقه مو ورکړه وغيره څه نعمت هم ميلاؤ شو نو اوس دې نعمت ته مه ګورئ بلکه سوچ اوکړئ: الله پاک دا نعمت عطا کړو، د نعمت نسبت ځان طرف ته نه، د الله پاک طرف ته کړئ ❀ امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د نعمت سره د نيکئ

---

[1]...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
[2]...مُسْلِم، کتابُ الذِّکْر و الدُّعَا، صفحہ:1122، حديث:6932۔
[3]...شُعَبُ الْاِيْمَان، باب: محبة ُ الله، جلد:1، صفحہ:419، حديث:590، ملتقطاً۔
[4]...صِرَاطُ الجنان، جلد:4، صفحہ:406، خُلاصۃً۔
[5]...اِحْيَاءُ العلوم، کتابُ الصَبْر والشکر، جلد:4، صفحہ:103، خلاصۃً۔

اراده کول **د زړه شُکر** دے- په ژبه باندې د الله پاک حمد او ثنا کول **د ژبې شُکر** دے- د الله پاک راکړے شوے نعمت په عِبَادت کښې لګول، دا په ګناه کښې د استعمالولو نه بچ کول **د نورو اندامونو** شُکر دے- (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه 16 حصې او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 مخونو رساله 550 سنت او آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

الفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نَم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

آمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...اِحْيَاءُ العلوم، کتابُ الصَّبْر والشکر، جلد:4، صفحہ:103، خلاصتً۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِيِّ الْاُمِّـيِّ
الْـحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون،ص١٥١ملخصًا
2... القول البديع،الباب الثانی، ص٢٧٧

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَافِیْ عِلْمِ اللہِ

صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللہِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَۂ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْھُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَی اللہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنْھُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات،الصلاۃ الثانیۃ والخمسون،ص۱۴۹
2... القول البدیع،الباب الاول،ص۱۲۵
3... الترغیب والترہیب،کتاب الذکر و الدعاء،۳۲۹/۲،حدیث:۳۰

لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2]

راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... مجمع الزوائد،کتاب الادعیۃ،باب فی کیفیۃ الصلاة...الخ،۱۰/۲۵۴،حدیث:۱۷۳۰۵

2... تاریخ ابنِ عساکر،۱۹/۱۵۵،حدیث:۴۴۱۵